لایق جان خوستی
رادیو قاهره، مصر

۲۰۱۷/۰۵/۰۸

# د سید جمال الدین افغان عالی نښان
# په قاهره کښې

د اسلامی نړۍ وتلي مفکر پروفیسور دکتور محمد عماره ته د ولسمشر دکتور محمد اشرف غني له خوا د سید جمال الدین افغاني ورکړل شوی عالی نښان په قاهره کښې ډالی شو

د اسلامی نړۍ وتلی مفکر پروفیسور دکتور محمد عماره ته د ولسمشر دکتور محمد اشرف غني له خوا د سید جمال الدین افغانی عالی دولتی نښان نن پنج شنبي د ۲۰۰۱۷ م کال د می میاشتي په څلورمه نیټه په قاهره کښې د افغانستان سفارت (قاعة السید جمال الدین الحسیني الافغاني) یا د سید جمال الدین الحسینی افغاني په تالار کښې د افغانستان سفیر ښاغلي فضل الرحمن فاضل له خوا په یوه شانداره غونډه کښې چي په همدي مناسبت جوړه شوی وه ورته وسپارل شو.



پروفیسور دکتور محمد عماره




الأعمال الكاملة لجمال الدين الأفغانی
د پروفیسور عماره په اهتمام

دکتور محمد عماره چې د سید جمال الدین افغان د تګلاري، فکر او فلسفي څیرونکی دی، او د خپل خواږه عمر ډېر وخت یې د جمال الدین افغانی د افکارو او مبارزې په څیړلو تیر کړی او په هغه سختو شیبو کښې چې د سید جمال الدین افغاني د اشغالګرو په مقابل کښې د ملتونو د ویښولو دنده ترسره کوله هغه ټول حالت یې څیړلی، چې په ۱۹ پیړی کښې اروپا د قوت اوج ته رسیدلې وه او عثماني خلافت هم نور د نړیدو په حال کښې وو په هغه سخت وخت کښې د سید جمال الدین افغان مبارزه کړنې او هڅې راټولی کړی، او ددی ترڅنګ یې د ځینې هغه لیکوالانو لیکنې او افکار چې د سید جمال الدین په هکله یې غلط معلومات او افکار نشر کړي ترټولو په ښه ډول دفاع کړی او د سید جمال الدین د ژوند سره تړلې موضوعات یې په ښه ډول روښانه کړی، د سید جمال الدین په هکله نوموړې ځینې مهم کتابونه د یادولو وړ دی چې "الاعمال الکاملة لسید جمال الدین الافغانی" همدا ډول "جمال الدين الأفغاني بين حقائق التاريخ وأكاذيب لويس عوض"، او "جمال الدين الأفغاني موقظ الشرق وفيلسوف الإسلام".

همدا ډول دکتور عماره هغه څوک دی چې په ډېرو مهمو لیکچرونو او ویناو کښې د سید جمال الدین افغان د افکارو او نظریاتو یادونه پداسې ډول سره کوي لکه دکتور عماره چې د سید جمال الدین په زمانه کښې ژوند کړی وي او د نږدې شاګردانو څخه یې وی، همدا ډول پروفیسور دکتور عماره ټولو افغانانو ته د سید جمال الدین د لمسیانو خطاب کوي، دري کاله مخکښې چې زه د پوهنتون په څلورم صنف کښې وم د افغانستان څخه د علماو یو پلاوی راغلی و، دکتور عماره او دکتور حسن الشافعی سره یې خاصه لیدنه درلوده مونږ افغانو محصلینو ته په هغه غونډه کښې د ګډون بلنه راکړل شوی وه، هغه خبره مې اوس هم په ذهن کښې ډېر وخت راګرځې چې دکتور عماره مونږ ته وویل: تاسو د سید جمال الدین افغان لسمي یاست د خپل نیکه فکر او لار تعقیب کړی او د هغه په هکله لیکل شوی کتابونه خپلو ملي ژبو ته وژباړی.

د نن ورځې په غونډه کښې دکتور عماره د افغان ولسمشر او په قاهره کښې د افغان سفیر څخه د منني ترڅنګ د سید جمال الدین افغان د هغه غوښتنې یادونه هم وکړه چې د عثماني خلافت وروستي پاچا عبد الحمید الثانی څخه یې غوښتنه وکړه چې په ترکیه کښې د عربي ژبی د رواجولو لپاره کوم پلان جوړ کړی ترڅو د عربي نړی سره واټن هم د مینځه ولاړ شی او په هغه وخت کښې چې د علومو زیاته برخه په عربي ژبه وه ورڅخه استفاده وشي، خو د سید جمال الدین د نیک نظر په مقابل کښې د عبد الحمید الثانی مشاورینو د سید جمال الدین د تخریب لپاره کار وکړ.

د یادونی وړ ده چې په قاهره کښې د پروفیسور دکتور محمد عماره، افغانستان سفارت فرهنګي څانګي د کتابونو د چاپ او نشر په برخه کښې د سید جمال الدین افغان په هکله ځینې کتابونه پدې وروستیو کښې هم چاپ کړي چې په هغه کښې د سید جمال الدین افغان د نیچریه کتاب هم چاپ شوی او په زړه پوري خبره داده چې د دی کتاب د نیچریه پښتو ژباړه وتلي جهادی رهبر مولوي محمد خالص د نیچریه اصلی فارسی کتاب څخه کړی او په ډېر ښه ډول یې ژباړلی ده، همدا ډول د افغان سفارت فرهنګي څانګي د سید جمال الدین افغان د مړیني د ۱۲۰ تلین لمانځنې په پلمه د خدای بخښلي دکتور امان الله صافی کتاب «تأثير فكر الافغاني في فلسفة إقبال» هم چاپ کړی.

دلته باید په قاهره کښې د افغانستان سفیر ښاغلي فضل الرحمن فاضل یادونه هم وشي چې د سید جمال الدین د هغه وفادارو لمسیو څخه دی چې د سید جمال الدین افغان په هکله یې ډېرې څیړنې کړی زه به یې دلته یو مثال ووایم چې د سید جمال الدین افغان د زیږیدنی د نیټې په هکله ده، د سید جمال الدین افغان د زیږیدنی نیټه پخوا جنجالي موضوع وه چې په دقیق ډول یې معلومه نیټه نه وه څرګنده، خو د ښاغلي فاضل په زیار چې د «بیدار ګر عصر» په نوم کتاب یې لیکلی پدی کتاب کښې فاضل د خپل رب په فضل سره د جمال الدین د زیږیدنی نیټه په دقیق ډول په ګوته کړی،

چي د ۱۲۵۴ هجري کال د شعبان په میاشت کښي زیږیدلی چي د ۱۸۳۸ میلادی کال د اکتوبر میاشتی سره سمون خوري.



پروفیسور عماره او د افغانستان سفیر

په قاهره کښي افغان سفیر فضل الرحمن فاضل د غونډي ګډونوالو ته دا زیری هم ورکړ چي د مصر د قاهري ښاروال ورسره موافقه کړی چي ډېر ژر به د قاهري ښار د «حدیقة الحریة» او یاهم د آزادی په باغ کښي به د سید جمال الدین افغان د یاددښت مجسمه جوړه کړي.

باید واویم چه پروفیسور عماره په ۱۹۳۱ م کال کی پیدا شوی او اوس ۸۷ عمر لری او نژدی ۲۷۰ دوه سوه او اویاوو کتابونه یی تر اوسه چاپ ته رسیدلی ده. په عمر یی برکت شه او لوی رب مو روغ او رمت ولری.

** * **




پروفیسور عماره او سید مبارک طرازی د بخارا آخرینی واکمن سید عالم خان لمسی



د سید جمال الدین  افغانی د کتابونو نندارتون




پروفیسور عماره  د افغانستان د ولسمشر او د افغانستان خلکونه مننه کوی



د محفل یوه برخه




گڼه: ۲۰۳
نېټه: ۱۳۹۵/۱۱/۵

د افغانستان اسلامي جمهوري رياست

مصري څېړونکي او عالم، دوکتور ښاغلي محمد عماره ته

د علامه سید جمال الدین افغان، عالي دولتي نښان د ورکړې په اړه

فرمان

د اسلامي نړۍ وتلي څېړونکي او پوه، دوکتور ښاغلي محمد عماره، د ختيځ نابغه، علامه سيد جمال الدين افغان د اثارو، مبارزو، تګلارو او ژوند په اړه څېړني کړي او د هغه د اثارو او ليکنو ټولګه يې د "الاعمال الكامله لجمال الدين الافغاني" تر سر ليک لاندې چاپ کړې ده، همداراز درې نور جلا کتابونه يې د "سيدجمال الدين المفترى عليه"، "جمال الدين الافغاني بين حقايق التاريخ و اكاذيب لويس عوض" او "جمال الدين الافغاني موقظ الشرق و فيلسوف الاسلام" تر سرليک لاندې ليکلي دي.

له همدې امله، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ۱۳۹۵ لمريز کال د مرغومي مياشتې د (۲۶مې) نېټې د (۳۳۳مې) ګڼې ليک پر بنسټ، د نوموړي د ښو، غوره او قدرورو خدمتونو د قدرداني او ستاينې په موخه ، د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴مې) مادې د (۱۹مې) فقرې له حکم سره سم، دوکتور ښاغلي محمد عماره ته، د علامه سيد جمال الدين افغان عالي دولتي نښان، ورکړه منظوروم.

د لوی خدای (ج) له درباره نوموړي ته د لا زياتو برياوو هيله کوم.

محمد اشرف غني

د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس



پروفیسور دکتور محمد عماره  د افغانستان په سفارت کی